# ما وويل: اې د الله رسوله! زموږ څخه پر يو يې د ښځې څه حق دی؟ هغه وفرمايل: «بايد ړوږ ورکړې کله چې ته خپله خوراک کوې، جامې ورکړې کله چې ته خپله جامې اخلې او يا يې ترلاسه کوې، مخ مه وهه او مه يې بدرنګوه او ځای دې ترې مه جلا کوه مګر په خپل کور کې

د معاويه القشيري رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي چې: ما وويل: اې د الله رسوله! زموږ څخه پر يو يې د ښځې څه حق دی؟ هغه وفرمايل: «بايد ړوږ ورکړې کله چې ته خپله خوراک کوې، جامې ورکړې کله چې ته خپله جامې اخلې او يا يې ترلاسه کوې، مخ مه وهه او مه يې بدرنګوه او ځای دې ترې مه جلا کوه مګر په خپل کور کې".

[حسن] [ابو داود ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم پوښتنه وشوه چې ښځه پر خاوند څه حق لري؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم د ځينو کارونو يادونه وکړه لکه: لومړی: له هغې پرته خپل ځان په خوړو سره مه ځانګړی کوه؛ بلکې هغې ته خواړه ورکوه کله چې ته خوراک کوې. دويم: خپل ځان په جامو کولو سره مه ځانګړی کوه، بلکې کله چې جامې اخلې هغې ته يې هم اخله، (يعنې کله دې چې جامې تر لاسه کولې او وس دې و نو هغې ته يې هم واخله). دريم: له سبب او اړتيا پرته بايد ونه وهل شي، که چېرته يې د تأديب په موخه وهلو او يا د ځينو فرايضو د پرېښودلو له امله وهلو ته اړتيا پيدا شوه نو بايد داسې ونه وهل شي چې اثر پرېږدي، مخ نه وهل کېږي؛ ځکه چې مخ د بدن په غړو کې لوی (حيثيت) لري او د نورو په پرتله ډېر ښکاره دی، او د درناوي وړ او تنکي غړي پکې دي. څلورم: کنځلې مه کوه او داسې مه وايه چې: الله دې مخ بدرنګه کړه؛ نو بدن څخه يې هيڅ شی بدرنګوالي ته مه پرېږده چې له ښايسته يې وباسي؛ ځکه چې الله تعالى د انسان مخ او بدن ته شکل ورکړی، او هر شی يې ښايسته پيدا کړی، او د پېدايښت بدرنګوالی نعوذ بالله د پيدا کوونکي په مذمت دلالت کوي. پنځم: يوازې په خوب ځای کې ترې ځای جلا کوه او بل لور ته ترې مه اوړه او بل کور ته يې تللو ته مه اړ باسه؛ دا کېدی شي د هغه څه په اړه وي چې د ښځې او خاوند تر منځه عادتا خفګان او پرېکون رامنځته کېږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee